مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۱۹/۱۱/۰۹

# د بـــانـــدې ښـــه، دنـــنـــه اور نـــه ډک یـــم



د بـــانـــدې ښـــه، دنـــنـــه اور نـــه ډک یـــم
د زمـــانـــو لـــه شـر و شـور نـــه ډک یـــم

د فـــریـــاد غـږ د اورېـــدو ځـــوک نـــه شـتـه
کـه غـږ جـګ نـه کـړم، نو له تور نه ډک یم

غـنـو تـــارونـــو کـــې بـــنـــد کـړی یـمـه
پـوهـه مي نـه شـتـه، لـه وچ زور نه ډک یم

ځای پر ځای ناست یمه، خوځون مي نه شته
چې مي خـوځـون وکـړ، انـځـور نــه ډک یم

کـــه د بـــل چـــا پـــه تـمـه کـېـنـاسـتـمـه
داسـې یـــې وګـــنـــه پـــېـــغـــور نــــه ډک یم

۲۰۱۹/۰۹/۰۱
هېدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ